شیر محمد امیني ستانکزی ۲۰۱۸/۱۱/۰۵

# د ماشومانو په روزنه کې ځو مهم او اړین ټکي

دویمه برخه

د ماشومتوب دوره ډیره شوخه وي، چې په ټولو تیره شوېده، نو ماشومان د ساتیریو په مهال شوخي هم کوي، نباید چې خپل ماشومان مو له ساتیریو څخه راوګرځوو، یا ورته لښته په لاس کړو او ویې ډار کړو. نه پریږدئ، چې هغوی شوخي هم وکړي، خو داسې شوخي نه چې په زیان یې وي. که چیرته له حده زیاته شوخي وکړي، باید ورته سپارښتنه وکړو، چې له شوخی لاس واخلي داسې ورته وواېو، چې بچی جانه! ډیره شوخي کولو باندې د ډیرو کسانو پښې او یا لاسونه مات شوي، یا ژوندی مثال ورکړو، چې پلانکي په کوچنیتوب کې ډیره شوخي کوله نوهغه ده، پښه یې ماته شوې، نو خدای مه کړه چې لاس یا پښه دې مات نه شي، بیا به ګوډ واوسې. نوبیا ماشومان خامخا په دې فکر کې کیږي، چې رښتیا هم زما پښه او یا لاس مات نشي او له ډیرې شوخی نه لاس اخلي.

ځیني کورنی شته چې کله ماشوم یې شوخي وکړي او یا ډیر وژاړي، نو د ځناوروحیواناتو نومونه ورته یادوي او په هغه یې ډاروي، نه باید دغه عمل ترسره شي، ځکه چې ماشوم بیا کم جرأته او ډارن رالویږي.

ماشوم ته ډیر نازو ورکول هم منفي زیانونه لري، دومره ماشومانو ته ناز ورکړل شي، څو مور او پلار یې پوه شي، چې له دې ډیر ناز ورکولو د ماشوم په ژوند کې منفي تاثیرات لیدل کیږي، باید د ډیر ناز ورکولو ډډه وشي او ترکم اندازه چې لیدل کیږي، ماشومانو ته ناز ورکړو .

کومې جملې چې مور او پلار د خپلو ماشومانو سره د خبرو کولو لپاره ترې کار اخلي؛ د ماشومانو لپاره خورا ارزښتناکې دي او په نبغه د دوی په تربیت، اند، راتلونکي شخصیت او روان اغېزمن کوي .

نو هڅه وکړئ، له ځینو ناسمو او ناراحت کوونکو جملو له ویلو په کلکه ډډه وکړئ د ماشومانو روزنه ساده کار نه؛ بلکې زیار او محنت غواړي. تاسو هر یو مکلف یاست، چې خپل ماشومان مو په بشپړ سالم تربیت او منونکي شخصیت ټولنې ته د راتلونکي نسل په حیث وړاندې کړئ. پکار ده، چې د خپلو ماشومانو په وړاندې پخپلو کړنو او خبرو کې له پوره احتیاط کار واخلئ.

کله چې دماشوم رسمي زده کړې، د ښوونځي لړۍ پیل یې ده، کومې لاربښوونې چې پورته ذکر شوې، ماشومان به په ښوونځي کې له ډیرو ستونزو خلاص وي، د زده کړو ترلاسه کولو کې به کومه ستونزه ونه ویني او دښوونځي چاپیریال به ورته آرام او مناسب ځای ښکاره شي، چې بیا به ترلوړو زده کړو پورې هیڅ راز کومې ستونزې سره مخ نه وي او ټولنې ته به دیو سالم شخص په توګه وړاندې شي. نو دا خبرې له نن څخه په خپلو ماشومانو وارزوئ او له ماشومانو سره مرستې ته دوام ورکړئ، څو دماشوم راتلوونکي روښانه او ځلانده وواسي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ